د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون دسترسی به اطلاعات

Islamic Republic of Afghanistan
Access to Information Commission

## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹کال د تلې ۲۸مه |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون دفتر، کابل، افغانستان |
| د غونډې رییس | د کمېسیون رییس ښاغلی عین الدین بهادري |
| ګډونوال | د کمېسیون مرستیاله او کمېشنره آغلې نجیبه مرام، د کمېسیون کمېشنره آغلې زهرا موسوي، د دارالانشا رییس ښاغلی عصمتالله حیدري او حقوقي سلاکار محمد حسن پویا. |
| دغونډې تنظیمونکی | آغلې  فائزه رضایی |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غونډه چې ۱۳۹۹کال، د تلې په ۲۸ مه د پورته ګډونوالو په شتون کې جوړه شوې و. په لاندې موضوعاتو بحث او د اندونوتبادله وشوه:

1. د کمېسیون د اوونیز راپور وړاندې کول دارالانشا ریاست رییس ښاغلي عصمت الله حیدری لخوا.
2. **د سکرترانو د ګمارنې پروسه:** دکمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه پر دې وشوه چې د کمېسیون ښاغلو غړو ته د سکرترانو د ګمارنې پروسه ژر تر ژره پای ته ورسېږي.
3. **د کمېسیون د دوه کارکوونکو د بستونو اعلانول:** دکمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه پر دې وشوه چې د ۲۰ کاري ورځو وروسته ښاغلی سیدبارک مبارز او ښاغلی رحمت الله حیدري په رسمي ډول منفک کېږي او له یادې مودې وروسته د بشري سرچینو آمریت دې یاد بستونه اعلان کړي.
4. **د کمېسیون او حمیده برمکي موسسې تر منځ د همکارۍ هوکړه لیک:** د دواړو اړخونو (کمېسیون او حمیده برمکي موسسه) د هوکړې د لاسلیک پر بنسټ، له دې وروسته کمېسیون ټول سلایدونه او ښوونیز بروشورونه حمیدې برمکي موسسې ته استوي او همدارنګه ښوونکو ته یې روزنیز پروګرامونه ورکوي. بل خوا به حمیدې برمکي موسسه ټولې کړنې او پروګرامونه له کمېسیون سره شریک او د پروګرامونو پلي کولو څخه انځوریز راپور ورکوي ترڅو کمېسیون هغه له خپل اړخه خپاره کړي.
5. **په دری او پښتو ژبه د سلایدونو برابرول:** په دې ناسته کې پرېکړه وشوه چې د کمېسیون لخوا په ټولو پروګراامونو کې د ګډونوالو د لا پوهاوي په پار د سلایدونو په پښتو او دري ژبو برابرولو باندې پرېکړه وشوه.
6. **د وېبپاڼو د څارنې راپور خپرول:** د کمېسیون غړو پرېکړه وکړه چې د وېبپاڼو  څارنې راپور دې له اړوندو ادارو سره د شریک کېدو په پار په وېبپاڼه کې خپاره کړي.
7. **محمدیونس ته لیکنی اخطار:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې له یو بل کارکوونکي سره د ناوړه چلند له امله، دې د تادیب لپاره خدماتي کارکوونکي محمدیونس ته لیکنی اخطاریه ورکړل شي تر څو ده ته پند او نورو ته عبرت شي.

خانه چهارم، سرک ششم قلعه فتح الله، شهر کابل، کابل، افغانستان
۰۰۹۳(۰)۷۸۹۶۰۵۹۷۳
info@aic.gov.af
www.aic.gov.af
www.askforinfo.af

8. **شکایاتونو ته رسېدنه:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې د مختلفو مراجعو څخه د شکایتونو په اړه خبرې وشوې چې لومړی پرېکړه پر دې وشوه تر څو د ازموینو ملي کمېټې څخه د شویو شکایتونو په هکله چې د تحصیلي رشتو د فایل او کوډ نمبر په اړه شوی وه، د اطلاع رسونې مسوولینو سره دې شفاهي خبرې وشي او هغه اطلاعات دې غوښتونکو ته ورکړي چې محرم نه وي. همدارنګه د مرکزي بانک د شکایت په هکله پرېکړه وشوه چې د اطلاع رسونې مسوولینو سره خبرې وشي او هوکړې ته ورسېږي تر څو غوښتونکي ته اطلاعات ورکړي او همدارنګه د کمېسیون مصوبات د کمېسیون په وېبپاڼه خپاره کړي ترڅو ټول وګړي شکایاتونو ته د رسېدنې په برخه کې د کمېسیون له کړنو څخه خبر شي.

9. **ستره محکمه:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې سترې محکمې ته دې د یادې ادارې د اطلاع رسونې مرجع مسوول نه همکاری، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون د احکامونو نه رعایت، د اطلاعاتو ډلبندی لپاره د کړنلارې نه تدوین او اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون ارزښتونو ته د یادې ادارې نه ژمنتوب په پار واستول شي. د کمېشنرانو د اندونو پر بنسټ، اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون یوه اونۍ وخت ورکوي ترڅو د سترې محکمې او لوې څارنوالۍ د اطلاعاتو ډلبندي کړنلاره وڅېړي او هغې ته په کتو د سترې محکمې د کړنو په هکله به اړینې پرېکړې وکړي.

10. **کلنۍ پلان جوړونه:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د GIZ محترم دفتر سره دې خبرې او همغږي وشي چې د امکان په صورت کې د ۱۴۰۰ کال لپاره د پلان جوړونې په پار د کمېسیون د غړو، د دارالانشا ریاست رییس او اړوندو آمریونو په ګډون یو بهرنی یا کورنی سفر تنظیم شي.

درنښت

د کمېسیون رییسعین الدین بهادري

د کمېسیون مرستیاله نجیبه مرام

د کمېسیون کمېشنره زهرا موسوي